# د پښتو څېړنو بین المللي مرکز د تأسیس څلوېښتمه کالیزه

## (۱۳۵۵-۱۳۹۵ل.)

(د سیمینار د مقالو ټولګه)

۱۴۰۵ ل.

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز د تأسیس څلوېښتمه کالیزه (۱۳۵۵ -۱۳۹۵ ل.)
(د سیمینار د مقالو ټولګه)

# The 40th Anniversary of The Establishment of International Center for Pashto Studies (1976 - 2016)

ISBN 978-9936-672-11-6
9 789936 672116

2026

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونيت
د پښتو څېړنو بين المللي مرکز

# د پښتو څېړنو بين‌المللي مرکز د تأسيس څلوېښتمه کاليزه (۱۳۵۵- ۱۳۹۵ل)

**(د سيمينار د مقالو ټولګه)**

تدوين، سريزه او اهتمام:

**څېړندوی عزيزالله مبارز**

**د علمي کمېسیون غړي:**
څېړنپوه نصرالله ناصر
څېړنپوه نصرالله سوبمن
څېړنوال وجیه الله شپون
څېړنوال عبدالقیوم مشوانی
څېړنوال رحمت الله هوتک

## د ټولګې ځانګړنې

**د ټولګې نوم:** د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ځلوېښت کاله
**لیکوال:** بېلابېل
**تدوین، سریزه او اهتمام:** څېړندوی عزیزالله مبارز
**د سیمینار د دایرېدو کال:** ۱۳۹۶ل.
**چاپ کال:** ۱۴۰۵ل/ ۱۳۴۸هـ. ق/ ۲۰۲٦م کال
**د چاپ ځای:** حبیب ناصري مطبعه، کابل - افغانستان
**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه ببوجان کوڅه، نوی ښار، کابل
**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکې شمیره :** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۹۳+)
**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست برېښلیک:** info@asa.gov.af
ISBN: 978-9936-672-11-6

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.**

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

أَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ
وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحٰبِهِ أَجْمَعِينَ.

# ليکلړ


د پښتو څېړنو د بین‌المللي مرکز څلوېښت کلن مزل ........................ أ

سریزه ................................................................ج

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز د تأسیس د ۴۰ کالیزې د نمانځغونډې لنډ گزارش ........ ه

۱. د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز اهداف.......................................۱

۲. د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز لنډه تاریخچه................................۶

۳. د پښتوڅېړنو د بین المللي مرکز چاپ آثار ...................................... ۴۸

٤. د پښتو څېړنو مرکز مالي او ارتباطي ستونزې او د حللارې ........................ ۷۹

۵. له ۱۳۸۱ ل. – ۱۳۹۴ ل. پورې د مرکز د غړیو شخصي فعالیتونه ....................... ۸۹

۶. د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ناچاپ آثار ...................................... ۹۸

۷. په پښتو ژبې او ادب کې د څېړنو پرون، نن او سبا ...............................۱۰٤

۸. د پښتو څېړنو بین‌المللي مرکز جوړ کړي سیمینارونه ................................ ۱۱۲

۹. له ۱۳۸۱ ل. کال راپه دې خوا د پښتو مجلې د مضامینو لیکلړ ........................ ۱۳۱

۱۰. د اروابناد حسن گل بانډوال ژوند او علمي هلې ځلې...............................۱۴۷

۱۱. د څېړونکي فرهاد ظریفي لنډه پېژندنه......................................... ۱۵۲

پریکړه لیک ...........................................................۱۵٤

# د پښتو څېړنو د بین‌المللي مرکز څلوېښت کلن مزل

پښتو د نړۍ په هغو ژبو کې شمار ده چې په بېړني ډول د پرمختګ په حال کې ده. د ژبپوهانو په باور کله چې یوه ژبه ویونکي او تحریري ادبیات ولري، نو هغه ژبه هېڅکله نه مري، بلکې پرمختګ کوي. پښتو د نړۍ یو له هغو ژبو ده چې تر دې وروسته یې مړینه له امکانه لرې ده، ځکه چې اوس بډایه ویپانګه لري، په دغه لاره کې بې شمېره څېړونکي زیار ګالي او ډېرې ارزښتناک آثار په کې چاپ شوي دي.

دا ټولګه هم د پښتو ژبې د پرمختګ او په تړاو یې د کړو کارونو له حاله تاسو خبروي، د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز څلوېښتمې کالیزې نمانځغونډه چې په ۱۳۹۶ل. کال جوړه شوې وه، ډېر شمېر څېړونکو او پوهانو په کې ګډون کړی و. د پوهانو او څېړونکو په مقالو کې د دې مرکز موخې (اهداف) په ډېر ښه ډول روښانه شوي دي. د دې مرکز په عمده هدفونو کې ځینې مهم اهداف چې په دې ټولګه کې به یې تاسو ولولئ، ځینو ته یې په لاندې ډول اشاره کوو:

د پښتو ژبې، اتنیک، تاریخ، ادب، اقتصاد، ټولنپوهنه او هنر په باب څېړنې د مرکز له مهمو هدفونو څخه شمېرل کېږي. همدارنګه په ټوله کې د پښتو ژبې پرمختګ د دې مرکز د پام وړ موخه ده، په ځانګړې توګه د پښتو څخه نورو ژبو او له نورو ژبو څخه په پښتو ژبه د آثارو ژباړل، خپرول او چاپول مو لومړیتوب دی. د پورتنیو اهدافو ترسره کول په دې ټولګه کې ډېر راغلي دي او تر ډېره د مرکز غړو په خپلو څېړنیزو چارو کې پلي کړي دي.

په دې ټولګه کې به تاسو د پښتو څېړنو د څلوېښتو کالو اوږد مزل او هم به په کې د ترسره کړو کارونو له جاج خبر شئ، لکه د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د تأسیس هدف، د مرکز چاپ آثار، د مرکز ناچاپ آثار او د مرکز جوړ کړي

سيمينارونه.

پورتنۍ اړتيا ته په کتو اړ شو چې د مرکز د څلوېښتمې نمانځغونډې دا ټولګه چاپ ته چمتو کړو او ستاسو تر لاسونو يې در ورسوو. موږ هڅه کوو چې د دې مرکز اړيکې له يونسکو نړيوالې ادارې سره بيا تازه کړو او د پخوا په څېر خپلې څېړنيزې چارې ګړندۍ کړو.

د پښتو څېړنو بين المللي مرکز په راتلونکي کې د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره کوټلي پلانونه لري او د ترسراوي لپاره يې مناسبې بوديجې ته اړتيا ده، موږ په دې هيله يو چې دا مرکز به په بين المللي کچه د پښتو ژبې د زده کړې يو معياری نصاب وليکي او ټولو هغو بهرمېشتو لپاره به ګټور وي چې د پښتو ژبې له زده کړې سره لېوالتيا لري.

په درنښت

**څېړنوال دوکتور محمد داؤد عربزی**

**د پښتو څېړنو بين المللي مرکز رئيس**

# سریزه

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز د څېړونکو له خوا د مرکز له اهدافو سره سمې زیاتې څېړنې ترسره کړې دي چې ځینې یې چاپ شوي او ځینې یې لا تر اوسه د چاپ لار څاري، په کار ده چې دې چارې ته پوره پاملرنه وشي او ګټه یې عامه شي. د مرکز له خوا په بېلابېلو موضوعاتو علمي ـ څېړنیز سیمنارونه جوړ شوي دي، چې د ځینو د سیمینار د مقالو ټولګې چاپ شوي دي او د ځینو نورو خوندي پرتې دي. د نوي رئیس څېړنوال دوکتور داود عربزي له راتګ سره سم مرکز داسې پرېکړه وکړه: (کوم سیمینارونه چې د مرکز له خوا په تېرو وختونو کې ترسره شوي دي، اړینه ده چې د هغو ټولګې د چاپ په ګاڼه وپسولل شي).

د دې مرکز د څلوېښتمې کالیزې سیمینار چې په ۱۳۹۶/۲/۱۷کال جوړ شوی و او د مقالو ټولګه یې لا تر اوسه نه وه چاپ شوې، ما ته هم د مرکز د رئس په مشوره (د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د څلوېښتمې کالیزې سیمینار) د مقالو د ټولګې اهتمام او تدوین چارې راوسپارل شوې. د لیکوالو مقالې مې ټکي په ټکي او غور ولوستې، د اړتیا سره سم مې په کې سمونې وکړې او چاپ ته مې برابرې کړې. البته یوه یادونه اړینه ګڼم چې د پښتو مجلې د مطالبو او موضوعاتو لیکلړ چې د مجلې د خپرېدو د لومړي کال څخه د ۱۳۸۱ل. کال پورې و، د پښتو مجلې په پرلپسې ۹۴ ګڼه کې چاپ او خپور شوی دی، نو د تکرار د مخنیوي په خاطر دغه مقاله د لیکوال په خوښه او همغږۍ په دې ټولګه کې چاپ نه شوه.

په دې ټولګه کې د مرکز د ترسره کړیو کارونو په اړه کره معلومات په بېلابېلو مقالو کې وړاندې شوې دي. د ټولګې په چاپ شوو مقالو کې د مرکز بېلابېلې ترسره کړې چارې ارزول شوې دي، چې د مرکز د لا ښه پېژندلو په برخه کې به ګټور واقع شي.

د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له رئيس څخه مننه کوم چې د مرکز د پرمختګ فکر ورسره دی او په دې هيله يم چې خپل ګامونه چټک کړي.

په دې ټولګه کې د راغلو مقالو د منځپانګې مسووليت مقاله ليکونکو پورې اړه لري او په پای کې د لوستونکو څخه هيله لرم چې پروفي غلطۍ مې وبخښئ، انسان له تېروتنو خالي نه دی، خو اړينه ګڼم چې لوستونکي دا کمی راته راوښيي او په ګانده کې يې د سمون کوښښ وکړم.

د پښتو ژبې د لا غوړېدا په هيله

**څېړندوی عزيزالله مبارز**
**د پښتنو تاريخ او فرهنګ انسټيټوټ علمي غړی**

# د پښتو څېړنو بین المللي مرکز
# د تأسیس د ۴۰ کالیزې د نمانځغونډې لنډ گزارش

د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز تشکیل د ۱۳۵۵ کال د لړم په ۲۹مه / ۱۹۷۶ د نوامبر په ۲۰مه د وزیرانو شورا له خوا تصویب شو او له همدې نېټې څخه یې رسماً په کار پیل وکړ. څرنگه چې د ۱۳۹۵ د لړم په ۲۹مه نېټه د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د تأسیس څلوېښتم کال پوره کېده، نو له همدې امله د پخواني سلاکار وزیر ښاغلي څېړنپوه زلمي هېوادمل په مشوره دې مرکز وپتېیله چې د تأسیس څلوېښتمه کالیزه یې د یوه سیمینار په ترڅ کې ونمانځي.

د دې نمانځغونډې د تدویر لپاره د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز غړیو له نورو پوهانو او څېړونکو سره په گډه په بېلابېلو وختونو کې شپږ غونډې جوړې کړې دي. لومړۍ غونډه چې په دې مرکز کې جوړه شوې وه، په هغې کې یې د نمانځغونډې د جوړولو د چارو د تنظیم لپاره اته کسیز کمېسیون وټاکه، چې دا کسان په کې شامل و: (نصرالله سوبمن، نعمت الله اندړ، عبدالواجد واجد، نصرالله ناصر، شېرگل اوستا، سید محی الدین هاشمي، وجیه الله شپون او عبدالقیوم مشوانی). د دې کمېسیون مسوولیت ښاغلي څېړنپوه نصرالله سوبمن ته وسپارل شو. په دې غونډې کې د تدویر پر څرنگوالي بحث وشو او کارونه ووېشل شول.

د یادونې وړ ده چې ښاغلي څېړنپوه نصرالله سوبمن بیا د ځینو روغتیایي ستونزو له امله د دې کمېسیون له مسوولیته معذرت وغوښت او د علومو اکاډمۍ د ریاست له خوا بیا مسوولیت ما مشواني ته را ترغاړې شو. په دویمه غونډه کې د نمانځغونډې لپاره د اړینو لیکنو او مقالو سرلیکونه او موضوعات په گوته شول او د جوړېدو د نېټې د ټاکلو په اړه یې خبرې وشوې.

درېیمه غونډه چې د ۱۳۹۵ل. کال د دلوې پر ۲۴مه نېټه جوړه شوې وه، په هغې

کې د نمانځغونډې لپاره تثبیت شوې مقالې ووېشل شوې او د نمانځغونډې د تدوير نېټه د کب نهمه وټاکل شوه؛ خو د ځينو ستونزو او نيمګړتياو له امله وځنډېده او په ټاکلې نېټه جوړه نه شوه.

ځلورمه غونډه چې د ۱۳۹۶ل. کال د غوايي پر ۴مه جوړه شوې وه، دې ښاغلو پوهانو په کې ګډون درلود: څېړنپوه زلمي هېوادمل، څېړنپوه نصرالله ناصر، څېړنپوه خليل الله اورمړ، څېړنپوه نصرالله سوبمن، څېړنپوه محمداسلم افضلي، څېړنپوه شېرګل اوستا، څېړنوال عبدالشکور قيومي، څېړنوالې جميلې سروري، څېړنوال عبدالظاهر شکيب او څېړندوی وجيه الله شپون. د دې غونډې په ترځ کې د نمانځغونډې لپاره ليکل شوې مقالې (نصرالله سوبمن، نصرالله ناصر او وجيه الله شپون) ته د تصحيح او لوستو لپاره وروسپارل شوې.

پنځمه غونډه چې د ۱۳۹۶ د غوايي پر ۱۰مه نېټه جوړه شوې وه او د مرکز ټولو غړيو په کې ګډون درلود. په دې غونډې کې تر تصحيح وروسته مقالې بېرته راټولې شوې، د غونډې لپاره د قرطاسيې پېرلو، د غرمنۍ د تدارک، بېنر او بلنليکونو چاپولو او نمانځغونډې ته د مېلمنو د رابللو چارې ووېشل شوې.

شپږمه غونډه د ۱۳۹۶د غوايي پر شپاړسمه وه، چې د مرکز پر غړيو سربېره په کې محترم څېړنپوه زلمي هېوادمل او څېړنپوه سيدمحی الدين هاشمي هم ګډون درلود او د نمانځغونډې د تدوير په څرنګوالي او اجنډا په کې وروستی بحث وشو، چې دا دی اوس د دغو ترسره شويو فعاليتونو پايله په سترګو ګورو.

د دې نمانځغونډې د جوړېدو په چارو کې د پخواني فرهنګي سلاکار وزير ښاغلي څېړنپوه زلمي "هېوادمل" څخه ځانګړې مننه کوو، چې له مالي تدارکه رانيولې تر تدوير پورې يې په ټولو اړوندو چارو کې راسره مرسته کړې ده. د دې نمانځغونډې مالي بوج پر غاړه اخيستونکو او له ټولو هغو درنو پوهانو څخه هم د زړه له تله مننه کوو، چې د نمانځغونډې د تدوير په ټولو چارو کې راسره تر پای ملڅ و.

په درنښت